**بسم الله الرحمن الرحيم**

## په قزاقستان کې وروستي لاريونونه

په قزاقستان کې یو ځلې بیا خلک لارو کوڅو ته ووتل او د څرګندې ناقانونۍ او د رژیم د درواغو پر ضد یې په احتجاج لاس پورې کړ. خو دا ځلې خلکو د ټاکنو پر پایلو اعتراض وکړ چې په ترڅ کې پخوانی ولسمشر نورسلطان نظربایف په حقیقت کې واک خپل اولاد ته پرېښود، خو د واک سرچینې لکه د امنیت شورا او د وطن ګوند اوس هم د ده په لاس کې دي. ده ۳۰ کاله په قزاقستان کې واک وچلاوه، وروسته یې ده ته په اساسي قانون کې د "ایلباسي" (ملي مشر) نوم ورکړ چې دا یو رسمي-سیاسي لقب دی چې ده ته ورکړل شو. ډېر احتمال شته چې نظربایف به نوی ټاکل شوی ولسمشر هم بشپړ مهار کړای شي.

د جون پر ۹ مه د د نوي ولسمشر لپاره ټاکنې ترسره شوي او تر رای شمېرنې وروسته، خلک په ټاکنو کې د ټګۍ برګۍ له امله د قزاقستان په بېلابېلو ښارونو په ځانګړې توګه په الماتا، نورسلطان او شیمکنت کې په لاريونونو راووتل. حکومت معترضین ونیول او د جون پر ۱۰ مه او ۱۱ مه هم د خلکو نیول روان وو.

د رسمي سرچینو له خولې کابو ۷۰۰ تنه په بېلابېلو ښارونو کې نیول شوي، خو د بشري حقونو فعالان دغه شمېر ډېر لوی ښیي. د سپربیک نورپیسوف (د قزاقستان لویه څارنوالۍ) وایې چې محکمې ۹۵۷ تنو ته ادارې جزاګانې ورکړې، ٦٧٠ تنو له ٦ څخه تر ۱۵ ورځو پورې په حبس محکوم کړل او ۱۱۵ تنه یې جریمه کړل.د دې ترځنګ بندیان له فزیکي تاوتریخوالی سره هم مخ شول چې په پایله کې یو لاریونوال پر سر په ډزو ولګېد او سملاسي یې ژوند له لاسه ورکړ. همدارنګه ګڼ شمېر لاريونوال د مخ پټو خلکو له لوري د ښار په بېلابېلو برخو کې تښتول شوي دي.

د قزاقستان نوی ولسمشر کسیم ژومرت توکایف له وال سټریټ ژورنال سره په دې موخه مرکه وکړه چې په لوېدیځ کې د قزاقي رژیم تصویر بدل کړي. ده وویل چې دی به په حکومت کې اصلاحات راولي، دی یو "اصلاح غوښتوونکی" دی او دی به دغه "اوسني حالت" ته بدلون ورکړي. له یورونیوز سره په مرکه کې ده وویل: د هغو کسانو په تړاو چې په لاريونونو کې یې برخه اخیستې ده، د هغوی ټولنیزې اړتیاوې څېړل کېږي او څرګنده یې کړه چې لاريونونه په هیواد کې "د اقتصادي ستونزو او پولي واحد ارزښت کمولو" په غبرګون کې شوي وو. ده زیاته کړه، "چارواکو د دوی اوازونه واوریدل"، لکه څرنګه چې یاد لاريونونه د ده د ټاکنې پر ضد نه وو، خلک د پولیسو تر کوتکو لاندې سړکونو ته راووتلي وو.

په ورته وخت کې یو بل ارام لاریون هم په لاره اچول شوی و، د بېلګې په توګه په الماتا کې ځینو ناپېژاندو کسانو پر یو بنر باندې لیکي وو: "زما ولسمشر نه یې". دغه عبارت د هغو خلکو ترمنځ په شعار واوښت چې د ټاکنو له پایلو سره مخالف وو او په خواله رسنیو کې کښته او پورته شو. چارواکو پر خواله رسنیو بندیز ولګاوه ترڅو د لاریون خبرونه خپاره نشي .

نن ورځ  پر سړکونو لاریونونه پای ته رسېدلي دي او غوسه هغه ځای ته ستنه شوې چې پیل شوې وه- خواله رسنۍ. په زرګونو د خواله رسنیو فعالانو هره ورځ په قزاقستان کې د ستونزو په تړاو شکایت کوي، په ځانګړې توګه د نظربایف خودسری رژیم په تړاو، چې دهیواد چارې یې په زور نیولي دي.

البته یاد لاریونونو په ټوله کې کومه پایله نه ده ورکړې، ځکه یاد لاریونونه د کومې ځانګړې پروژې پر مټ نه رهبري کېدل او دغو لاریونونو آن مشر هم نه درلود – ټول ناکام نوماندان د لاریونوالو پر ضد ودرېدل، یاني دوی تش په نامه په ټاکنو کې ودرېدل د دې لپاره چې یادو ټاکنو ته په یو ډول مشروعیت ورکړي. په قزاقستان کې سیاسي فضا ډېره پیکه ده آن که واکمن رژیم پرېکړه کړې وای چې په ټاکنو کې دې تش په نامه اشخاص او افراد برخه نه اخلي، بلکې واقعي اپوزیسون دې سیالي وکړي، نو هیڅ یو پیاوړی نوماند به پیدا شوی نه وای. همدارنګه د یادونې وړ ده چې د شریعت له اړخه یادې ټاکنې باطلې او بې اعتباره دي، ځکه چې د دیموکراتیک کفري چوکاټ په اډانه کې ترسره شوې. متاسفانه په لاریونوالو کې اسلامي سیاسي ویښتیا هم نه وه، دوی د لیبرالیزم او دیموکراسۍ د لوېدیځو نظریاتو څخه په الهام اخیستو یې په لاریونونو لاس پورې کړی وو. قزاقي رژیم په قزاقستان کې د اسلامي حرکتونو او ګوندونو په ځنده کولو کې بریالی شو، په مهارت سره یې په ځینو حالاتو کې یاد ګوندونه سره بېل کړل او په فزیکي توګه یې یو په بل وګواښل. دا د نظربایف کورنۍ تګلاره وه او په خپله تګلاره کې بریالی شو.

دا د حیرانتیا وړ ځکه نه ده چې د نظربایف سلاکارانو د لوېدیځوالو سیاسیونو لکه ټوني بلېر څخه زده کړه کړې وه. په ۲۰۱۲ کې ټوني بلېر له نظربایف سره مرسته وکړه چې په هیواد کې د زرګونه تېلو کارګرانو یو میاشتانه اوږد اعتصاب پای ته ورسوي. یاد اعتصاب د منګیستو سیمې ژنوزین په ښار کې له وسلو څخه په کار اخیستنې چې په پایله کې ١٦ تنه ووژل شول، پای ته ورسېد. همدغه د لوېدیځوالو مشرانو او د اسلامي هیوادونو د یووالي بېلګه ده، که څه هم اوس هغه لوېدیځ وال مشران په واک کې نه دي، خو د اسلامي واکمنو چارواکو سره خپلې اړیکې پالي. یاد طاغوتان او خودسره واکمنان آن د واک تر پای ته رسېدو وروسته هم ورسره مرسته کوي.

له همدې امله د لاریونونو ترځنګ، نوي ولسمشر کسیم ژومرت توکیوف چې په حقیقت کې د نظربایف مادون دی، تر ټاکنو وروسته لوړه وکړه او د لوړې د مراسمو په ترڅ کې د "ایلباسي" (ملي مشر) څخه مننه او ستاینه کوله او ژمنه یې کوله چې د پخواني ولسمشر لاره به تعقیبوي، که صلاحیت ولري.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ﴾**

**[ابراهیم: ۴۲]**

ژباړه: ***او ته په الله باندې له سره (دا) ګمان مه کوه چې هغه غافله دی له هغو کارونو نه چې ظالمان يې کوي، بېشکه همدا خبره ده چې هغه، دوی هغې ورځې ته وروسته کوي چې په هغې کې به سترګې (له وېرې) خلاصې پاتې شي.***

**لیکوال: محمد منصور**

**ژباړن: صدیق احمدزی**

**الرعیه ورځپاڼه- ګڼه ۲۴۰**